# د افغـــــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۴ / شعبان المعظم /۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۲٦ / حوت /۱۴۰۱هـ، ش**

# اول د حمل د نو روز په نوم لمانځل د شريعت خلاف عمل دی

إن الحمد لله ، نحمده ونستعينه ونستغفره ، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ، أما بعد ؛

د حمل لومړۍ ورځ د نوروز په نوم لمانځل د پخوانيو فارسيانو رسم او دهغوی اختر دی.

لکه دمسلمانانو د اختر په څير به فارسيانو په دغه وورځ کې خوشحالي کوله او نوی جامې به يې اچولی او يو بل ته به يې ددغې ورځ مبارکي ورکوله؛ او يو بل ته به يې تحفې او ډالۍ ورکولی او نور ډول ډول رسمونه به يې کول.

تاريخ پوهان وايې چې دا ورځ د لومړي ځل لپاره د فارسيانو لومړي پاچا جمشيد لمانځلې وه، ويل کيږي چې هرکله طهومرث پاچا مړ شو د هغه څخه وروسته جمشيد پاچا شو دوی دغه ورځ د اختر وګرځوله او د جمشيد پاچا څخه وروسته دا ورځ د اختر د ورځې په عنوان لمانځله. دهود عليه السلام زمانه کې جمشيد پاچاه شوی ؤ او کله چې جمشيد په تخت کيناست خلکو دغه ورځ په نوروز يعنی د نوی ورځ سره ونوموله او وروسته دا د مجوسيانو لپاره اختر وګرځيد.

ځينې بيا وايې چې نوروز په ورځ الله تعالی نور پيدا کړ او ددې وجی نه جمشيد دا ورځ غوره ګڼله.

نوروز مجوسي پاچاهانو ته ډير د قدر او عزت وړ ورځ وه او مجوسيانو پـه ه دې ورځ کـې مختلف رسمونه او رواجونـه کول او قسماقسم عقيدې يې درلودلې. په دې ورځ کې به مجوسيان سرکونو او عمومي لارو ته راوتل، د سيندونو ساحلونو او د تفريح ځايونو ته به د کوچنيانو سره يوځای دخوښيو د لمانځلو لپاره تلل، ښځې او سړي به يوځای د خوښيو د لمانځلو لپاره وتل.

متأسفانه چې ددې ورځ لمانځل يواځې په فارسيانو پورې منحصر پاتې نشوه او داسلام د مبارک دين د راتللو څخه وروسته هم د ځينې مسلمانانو په منځ کې لمانځل کيږي.

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته هجرت وکړ، په مدينه منوره کې خلکو له پخوا څخه دوه ورځې نوروز او مهرجان خوښۍ او خوشحالۍ لمانځلو ته ويستلی وې. پيغمبر عليه السلام پوښتنه وکړه: (ما هذان اليومان ؟ قالوا : كنا نلعب فيهما في الجاهِلِيَّةِ ، قال رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- : قد أَبْدَلَكُم الله خيرا منهما : يَوْمَ الأَضْحَى ، ويومَ الفِطْرِ). أخرجه أبو داود والنسائي.

ترجمه:- دا دوه ورځې(نوروز او مهرجان) د څه شي دي؟ هغوی ورته وویل: مونږ به په جاهلیت کې به دې ورځوکې لوبې کولی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه دا دواړه ستاسو لپاره الله تعالی په دوه نورو غوره ورځو سره بدلې کړلی چې هغه د لوی اختر ورځ ده او د وړوکي اختر ورځ ده.

د آحادیثو شارحین وایې چې دغه ورځې چې دمدینې منورې خلکو په کې لوبې کولی یوه د نوروز ورځ وه او بله د مهرجان ورځ وه چې په مني کې د میزان په میاشت کې وه.[مرقاة ]

همدا راز دا دواړه اخترونه مسلمانانو ته هغه وخت ورنقل شول چې کله مسلمانانو فارس فتح کړ؛ ځینې رسومات او عقیدې په فارسیانو کې پاتې وی ؛ همغه ؤ چې مسلمانانو ته د نوروز د ورځې لمانځل ورنقل شول.ددې وجې نه ددې ورځو ذکر په حنفي فقه کې زیات راغلی دی؛ ځکه حنفي علماوو او مجتهدینو ددې نه ویره درلودله چې د مجوسیت عقاید او رسمونه مسلمانانو ته منتقل نشي او که نقل شوي وي باید ځانونه ورڅخه وساتي.

خو کله چې معتضدعباسي خلیفه شو د مجوسیانو هغه رسم یې له منځه یوړ چې خلکو به کول لکه په نوروز کې د اور بلول او په خلکو باندې اوبه اچول.[الاعتقاد القادری]

روافض دا ورځ ددې لپاره لمانځې چې د هغوی په گمان په دې ورځ کې عثمان بن عفان رضي الله عنه شهید کړل شوی دی او خلافت حضرت علی کرم الله وجهه ته نقل شوی دی.[مرقاة المفاتیح]

**د نوروز ورځ لمانځل د لاندې دلائلو په بناء جواز نلري:**

۱- اخترونه او د هغو لمانځل دشریعت برخه ده او په کارده چې په دې کې د اسلامي شریعت لاره غوره شي او یواځې اسلامي اخترونه ولمانځل شي او بس. زمونږ په اسلامي شریعت کې د نوروز په نامه اختر نشته ؛بلکې دا دمجوسیانو اختر دی.

هر امت ځان ته شعائرلري او په دې مورد کې داسلام شعائر وړوکی اختر او لوی اختر دی.الله تعالی فرمایلي دي: { لِكُل أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ } الحج: (٦٧)

ترجمه:- د هر یو امت لپاره مونږ د بندگۍ یوه لاره مقرر کړې ده چې دوی په هغې عمل کوونکې دي.

نبي علیه السلام داسلامي اخترونو په اړه فرمایلي دي: (إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيداً ، وَهَذَا عِيدُنَا). متفق علیه

ترجمه:- د هر قوم مخصوص اختر وي او دا زمونږ اختر دی.

۲- رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوروز او مهرجان ورځو لمانځل غیر مشروع گرځولي دي.

کله چې د مدینې منورې خلکو دا دوه ورځې لمانځلې هغوی ته یې وفرمایل:( إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ). سنن أبی داود

علامه مناوي ددې حدیث په شرح کې وایې: په دې حدیث کې دلیل دی چې د نوروز ورځ او مهرجان او داسې نورو ورځو لمانځل ممنوع دي.[فیض القدیر ]

پیغمبر علیه السلام هغه ورځې منسوخ وگرځولی او د هغو دوه ورځو په عوض کې یې اسلامي اخترونه مشروع کړل، دادې دلیل دی چې د نوروز د ورځې لمانځل منسوخ شو؛ ځکه په بدل کې یې اسلامي اخترونه رامنځ ته شول او دجاهلیت د زمانې اخترونه لغو شول.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیث ددی جزء " قدابدلکم بهما" له ورایه ښکاري چې دلوی اوکوچني اخترونو ورځې دهغو دوو ورځو په بدل کې ورکول شوی دی، معلومه خبره ده چې دبدل ورکولو وروسته ، مبدل منه چې هغی پخوانۍ ورځې دي وروسته پرځپل حال باندې پاته کیدلائ نشي. نو دنوروز او مهرجان ورځې حرامې شوي دي اوکوچنی او لوی اخترونو ورځې مقرر شوي دي.

**۳- د نوروز په لمانځلو کې دکفارو سره تشبه رامنځ ته کیږي چې په اسلامي شریعت کې جواز نلري.**

د کفارو سره په هغو شیانو کې تشبه حرامه ده چې د هغوی خصوصیت وي لکه د کفارو اخترونه، د کرسمس لمانځل او داسې نور رسمونه چې دوی یې لمانځي لکه د عاشقانو ورځ، د پیدایش ورځ، د اپریل فول اوله ورځ چې د ابروی فول کې دروغ وایې د ښځو ورځ دا هم ناروا دي ددوی سره د تشبه له وجې نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ). سنن أبی داود

ترجمه:- چاچې د یو قوم سره ځان مشابه کړ، پس هغه د همغه قوم څخه دی.

د کفارو سره مشابهت ددې وجی نه حرام دی چې په ظاهر کې مشابهت په باطن کې د هغوی سره محبت او مینه پیدا کوي او څوک چې د کافر سره مینه او محبت پیداکړي د اسلام څخه وزي.

هر هغه عقیده، عمل،عنعنه او رسم چې دکفارو پورې خاص وي او په کې مشابهت راځي حرام دي.

حضرت عمر رضي الله عنه د شام نصاراوو څخه کلک تعهد اخیستی ؤ چې هغه اعمال چې په مسلمانانو پورې مخصوص دي او د مسلمان علامه وي هغه به نصارا نه کوي؛ ترڅو د مسلمان او نصراني ترمنځ تشابه رامنځ ته نشي.:( وَلاَ نَتَشَبَّهُ بِهِمْ فِي شَيْءٍ مِنْ لِبَاسِهِمْ مِنْ قَلَنْسُوَةٍ وَلاَ عِمَامَةٍ وَلاَ نَعْلَيْنِ) سنن الکبری

ترجمه:- او ځانونه به د مسلمانانو سره نه مشابه کوو په هیڅ شي کې د مسلمانانو په لباس کې لکه خولۍ،پټکی او دمسلمانانو په څیرپڼې.

په نبوي آحادیثو کې او د فقهې په کتابونو کې بې شمیره احکام شته چې د کفارو سره د مشابهت له کبله حرام گرځول شوي دي. خلاصه داچې د کفارو سره مشابهت په لاندې شیانو کې ناروا دی:

- په هغو عاداتو کې چې پرکفارو پورې خاص وي او انساني ضرورت نه وي.
- د کفارو په عباداتو کې.
- په رسمونو او رواجونو کې .
- په کالو او لباس کې چې د کفارو تقلید په کې مطلوب وي.
- دځان او بدن په جوړولو او عیارولوکې.
- داخترونو او ورځو په لمانځلو کې.

### ٤- د نوروز ورځ لمانځلو څخه صحابه کرامو او تابعینو منع کړی ده.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ : مَنْ مَرَّ بِبِلاَدِ الأَعَاجِمِ فَصَنَعَ نَيْرُوزَهُمْ وَمِهْرَجَانَهُمْ وَتَشَبَّهَ بِهِمْ حَتَّى يَمُوتَ وَهُوَ كَذَلِكَ ، حُشِرَ مَعَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ). سنن الكبرى للبيهقى

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضيٍ الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایې: څوک چې د عجمو په ښارونو تیریږي او د هغوی نوروز او مهرجان ولمانځل او دهغوی سره یې مشابهت وکړ تر دې چې مړ شو او په همدغه حال ؤ او توبه یې نه وه ویستلی، د هغوی سره به یې حشر وشي د قیامت په ورځ.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمایې: (اجتنبوا أعداء الله في عیدهم) سنن الكبرى

ترجمه:- ځانونه وساتئ د الله تعالی د دښمنانو د اخترونو څخه.

په یو بل روایت کې راځي چې عمررضي الله عنه فرمایلي دي:( لا تدخلوا على المشركين في كنائسهم يوم عيدهم فإن السخطة تَنْزِلُ عليهم) [رواه عبد الرزاق في المصنف ، و البيهقي في السنن الكبرى]

ترجمه:- مه داخلیږئ په مشرکانو باندې د هغوی په کلیسا کې د هغوی د اختر په ورځو کې ؛ ځکه پر هغوی غضب نازلیږي.

یعنی ددوی په اخترونو کې برخه مه اخلئ.

( عن ايوب بن دينار عن ابيه ان عليا كان لا يقبل هدية النيروز) التاريخ الكبيرللبخارى

ترجمه:- علی رضی الله عنه به د نوروز هدیه نه قبلوله.

حضرت عمر بن عبدالعزيز رضي الله عنه د کوفې امیر عبدالحمید بن عبدالرحمن ته په هغه لوی خط ولیکل :( ولا هدية النيروز والمهرجان). مصنف ابن أبي شيبة

ترجمه:- او نه به اخلئ تحفه د نوروز او نه تحفه د مهرجان.

حضرت طلحه بن مصرف رحمه الله چې جلیل القدر تابعي دی هغه فرمایې: «إِنِّي لَأَكْرَهُ الْخُرُوجَ يَوْمَ النَّيْرُوزِ، إِنِّي لَأَرَاهَا شُعْبَةً مِنَ الْمَجُوسِيَّةِ» حلية الأولياء وطبقات الأصفياء

ترجمه:- د نوروز په ورځ وتل زه بد ګڼم ، زه بولم نوروز لره چې دا یوه شعبه د مجوسیت ده.

### ٥- په دار اسلام کې د کفري او شرکي اخترونو داظهار څخه منع راغلی ده.

کله چې حضرت عمر رضي الله عنه د شام نصاراوو سره صلحه کوله په هغوی یې دا شرط ایښی ؤ چې په دار اسلام کې به کفري اخترونه او مناسبتونه نه ښکاره کوي او هغه به په ښکاره نه لمانځې.

نصاراوو په هغه تعهد نامه کې داسې لیکلي ؤ چې : (وَأَنْ لاَ نُخْرِجَ سَعَانِينًا وَلاَ بَاعُوثًا) السنن الكبرى

سعانين اخترونو ته ویل کیږي او باعوث هغه ورځې او مناسبتونه دي چې دوی په کې راټولیږي.

یعني نه به وځو په اخترونه کې او نه به وځو په هغه ورځو کې چې مونږ په کې راټولیږو. [ تحريم مشاركة الكفار للدسوقي]

### ٦- د نوروز لمانځل د فقهای کرامو ناروا ګڼله:

قَالَ أَبُو حَفْصٍ الْكَبِيرُ رحمه الله : لَوْ أَنَّ رَجُلًا عَبَدَ اللَّهَ خَمْسِينَ سَنَةً ثُمَّ أَهْدَى لِمُشْرِكٍ يَوْمَ النَّيْرُوزِ بَيْضَةً يُرِيدُ تَعْظِيمَ الْيَوْمِ فَقَدْ كَفَرَ وَحَبِطَ عَمَلُهُ). [رد المحتار ]

ترجمه:- ابوحفص کبیر حنفی چې دامام محمدبن حسن شیبانی شاګرد او لوی مجتهد دی فر مایي: که چیرې یو بنده پنځوس کاله د الله تعالی عبادت وکړي او بیا یي د نوروز په ورځ مشرک ته یوه هګۍ په تحفه کې ورکړه چې د نوروز درناوی یې غرض وي ټول عبادت به یي باطل شي.

- قَال قَاضِي خَانْ : (رَجُلٌ اشْتَرَى يَوْمَ النَّيْرُوزِ شَيْئًا لَمْ يَشْتَرِهِ فِي غَيْرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ : إنْ أَرَادَ بِهِ تَعْظِيمَ ذَلِكَ الْيَوْمِ كَمَا يُعَظِّمُهُ الْكَفَرَةُ يَكُونُ كُفْرًا ، وَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ لِأَجْلِ السَّرَفِ وَالتَّنَعُّمِ لاَ لِتَعْظِيمِ الْيَوْمِ لاَ يَكُونُ كُفْرًا ، وَإِنْ أَهْدَى يَوْمَ النَّيْرُوزِ إلَى إنْسَانٍ شَيْئًا وَلَمْ يُرِدْ بِهِ تَعْظِيمَ الْيَوْمِ ، إنَّمَا فَعَلَ ذَلِكَ عَلَى عَادَةِ النَّاسِ لاَ يَكُونُ كُفْرًا ، وَيَنْبَغِي أَنْ لاَ يَفْعَل فِي هَذَا الْيَوْمِ مَا لاَ يَفْعَلُهُ قَبْل ذَلِكَ الْيَوْمِ وَلاَ بَعْدَهُ ، وَأَنْ يَحْتَرِزَ عَنِ التَّشَبُّهِ بِالْكَفَرَةِ .[ الخانية بهامش الهندية ]

قاضی خان چې مشهور حنفي فقیه دی هغه فرمایي: که چیرې یو سړي د نوروز په ورځ داسې څه واخیستل چې په نورو ورځو کې یې نه اخیستل که چیرې قصد یې دنوروز درناوی ؤ لکه څرنګه چې کفار یې درناوی کوي، په دې کار سره کافر کیږي او که چیرې دا یې د مسرف او نعمت څخه خوند اخیستلو په نیت را ونیولو او د نوروز تعظیم یې په نیت کې نه ؤ، بیا دا کفر نه دی.

همدا راز که چیرې د نوروز په ورځ یې کوم چاته تحفه ورکړله او د نوروز ورځ تعظیم یې نیت کې نه ؤ؛ بلکې د خلکو دعادت په بناء یې داسې کار وکړ دا هم کفر نه دی او لازم دي چې د نوروز په ورځ کې داسې کار ونه کړي چې ددغې ورځو څخه یې مخکې او یا وروسته یې نه کوي او په کار ده چې د کفارو سره د مشابهت څخه ځان وژغوري.

امام نسفي رحمه الله په کنزالدقائق کې لیکي: ( والاعطاء بِاسْمِ النَّيْرُوزِ وَالْمِهْرَجَانِ لاَ يَجُوزُ ) أَيْ الْهَدَايَا بِاسْمِ هَذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ حَرَامٌ بَلْ كُفْرٌ .[البحر الرائق ، تبيين الحقائق]

ترجمه:- د ډالیو ورکول د نوروز په ورځ او د مهرجان په ورځ جواز نه لري یعنی په دې ورځوکې تحفې ورکول حرام دي؛بلکې کفر دی.

په فتاوی الهندیه کې راځي:(وَبِخُرُوجِهِ إلَى نَيْرُوزِ الْمَجُوسِ لِمُوَافَقَتِهِ مَعَهُمْ فِيمَا يَفْعَلُونَ في ذلك الْيَوْمِ وَبِشِرَائِهِ يوم النَّيْرُوزِ شيئا لم يَكُنْ يَشْتَرِيهِ قبل ذلك تَعْظِيمًا لِلنَّيْرُوزِ لَا لِلْأَكْلِ وَالشُّرْبِ وَبِإِهْدَائِهِ ذلك الْيَوْمِ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ بَيْضَةً تَعْظِيمًا لِذَلِكَ). [ الهندية]

ترجمه:- او کافرکیږي په وتلو دده سره مجوسي نوروز ته ، د وجې د موافقې دده له هغوی سره په هغه څه کې چې هغوی یې کوي په دغه ورځ کې او په اخیستلو دده په ورځ د نوروز داسې شی لره چې نه یې اخیسته مخکې له دغې ورځې څخه او ویره د کفر ده په تحفه ورکولو سره په دغه ورځ د نوروز کې مشرکانو ته ولو که یوه هګۍ هم وي ددغې ورځې د تعظیم په نیت سره.

۷- دنوروز په لمانځلوکې دکفارو دنفسي غوښتنو متابعت دی ، په داسې حال کې چې مسلمان دهغوی دنفسي- غوښتنو دمتابعت څخه صراحتامنع شوي دي. الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ) البقرة: ۱۴۵

ترجمه:- که چیرې ته د هغوی د خواهشاتو تابع شوی( نو) یقینا یقینا ته به په دغه وخت کې له ظالمانو ځینې یې.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا). المائدة: ۴۸

ترجمه:- او ته له دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه چې هغه حق پریږدې چې تاته راغلی دی، مونږ په تاسو کې د هریو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړی ده.

( يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا * وَاتَّبِعْ مَا يُوحَى إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا) الأحزاب: ۱ – ۲

ترجمه:- ای نبي! ته له الله نه وویریږه او د کافرانو او منافقانو خبره مه منه،بیشکه چې الله له ازله ښه عالم ښه حکمت والا دی.او ته د هغه (حکم) پیروي کوه چې تاته دخپل رب له جانبه وحی کولی شي؛بیشکه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوی ښه خبردار دی.

**۸- دنوروز په ورځ ځان دکفارو په شان جوړل، مسلمان صراحتا ددې څخه منع شوی دی؛ چې ځان دکفارو په شان جوړکړي.**

**( أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ). الحدید: ۱٦**

ترجمه:- آیا هغوکسانو ته چې ایمان یې راوړی دی(دغه)وخت نه دی راغلی چې ددوی زړونه نرم(او په ویره)شي د الله ذکر ته او هغه حق ته چې نازل شوی دی او د هغو کسانو په شان نشي چې ددینه مخکې ورته کتاب ورکړل شوی ؤ نو په دوی باندې زمانه اوږده شوه پس ددوی زړونه سخت شول او په دوی کې ډیر فاسقان دي.

**۹- دنوروز په لمانځلوکې دکفارو لوری ته شوق اومیلان دی او الله پاک مسلمانان ددې څخه په ښکاره منع کړی دي ، فرق نلري که میلان دوی ته په دوستۍ باندې وي او که داسلام په هکله ددوی دخبرو په منلو باندې وي اوکه ددوی په کارونو باندې په خوشحاله کیدلوباندې وي.**

**(وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ).هود: ۱۱۳**

ترجمه:- او تاسو د هغو کسانو په طرف مه مائله کیږئ چې ظلم یې کړی دی (ګنی) نو (ددوزخ) اور به تاسو ته در ورسیږي په داسې حال کې چې تاسو له پاره به د الله نه غیر هیڅ کارسازي (دوستان) نه وي بیا به د تاسو سره مدد نه کولی شي.

**مسلمان ته په کار دي چې په لاندې لارښوونو عمل وکړي:**

۱- مسلمان ته ښایې چې نوروز ونه لمانځې او که څوک یې لمانځي په کې برخه وانه اخلي.

۲- د کفارو  او دوکه شوو مسلمانانو سره ددې ورځې په لمانځلو کې مرسته او همکاري ونه کړي؛ لکه ددې ورځې په بوردونو لیکلو او شعارونو په لیکلو او نصبولو کې مرسته؛ ځکه دا د کفارو او مجوسیانو رسم دی؛ ځکه په دې کارونو کې مرسته کول داسې ده لکه څوک چې یې خپله لمانځي.

۳- کوم مسلمانان چې په ناپوهۍ سره د نوروز ورځ لمانځي، هغوی ته باید نصیحت وکړي.

۴- په دې ورځ کې یو بل ته د ډالۍ ورکولو څخه ځان وژغوري او د هغه خوراکونو د خوراک د خوړلو څخه ځان وساتي چې په دې مناسبت پاخه شوي وي ترڅو  چې د غیر شرعي مناسبت په لمانځلو کې شریک نه شي.

۵- د هغه رسمونو او رواجونو څخه ځان وساتي چې په دې ورځ کې یې خلک کوي لکه مبارکي ویل، نوی جامې جوړول او اغوستل، خواږه خوراکونه پښول او ویشل؛ ترڅو ددې ورځ په لمانځلو کې هیڅ برخه وانه اخلي او دا ورځ کم رنګه او لکه د نورو ورځو په څیر عادي تیره شي.

٦- مسلمان ته ښایې چې ددې ورځې د لمانځلو حقیقت نورو هغو مسلمانانو ته بیان کړي چې ور څخه ناخبره وي.

## گرانو هیوادوالو او عزتمنو مسلمانانو!

رمضان المبارک میاشت را نږدې شوی ده، هغه میاشت چې نفلي عبادت په کې په فرضو قبلیږي، گناهونه په کې رژیږي، د روژې میاشت د صابرینو میاشت ، د توبې میاشت، د تهجدو میاشت، د سخا او صدقې میاشت ده، هغه میاشت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هغې ځانگړې اهتمام کولو او په اړه به یې خلکو ته زیری ورکولو او صحابه کرامو به د روژې په اړه یو بل ته زیری ورکولو او راتلو ته به یې زیات خوشحاله ؤ او دا دعاء به یې کوله چې:(اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ). مسند البزار

ترجمه:- ای الله ! برکت واچوه زمونږ لپاره په رجب او شعبان کې او ورسوه مونږ رمضان ته.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان له راتلو مخکې صحابه کرامو د رمضان المبارک په اړه سپارښتنه کوله او داسې به یې ورته ویل:(أتاكم شهر رمضان شهر مبارك فرض الله عليكم صيامه تفتح فيه أبواب السماء وتغلق فيه أبواب الجحيم وتُغَلُّ فيه مَرَدَةُ الشياطين وفيه ليلة هى خير من ألف شهر مَن حرم خيرها فقد حرم). [أحمد ، والنسائی]

ترجمه:- تاسو ته د رمضان المبارک میاشت راغله ، دا یوه مبارکه میاشت ده، الله تعالی فرض کړی دهددې روژه، په دې میاشت کې د آسمان دروازې خلاصیږي او د جهنم دروازې بندیږي او تړل کیږي په دې میاشت کې سرکشه شیطانان، په دې میاشت کې یوه شپه ده چې د زرو میاشتو څخه غوره ده څوک چې ددې له خیر څخه محرم شو، هغه محروم شو.

مونږ ته په کار دي چې ددغه مبارکې میاشت لپاره پوره امادگي ولرو او لاندې لارښوونې په نظر کې ونیسو:

**اول**:- هرمسلمان باید د رمضان مبارک تر رارسیدلو مخکې په اخلاص توبه وباسي او په خپلو هغو تقصیراتو کې چې دالله جل جلاله په بندگۍ کې ور څخه صادر شوي وي فکر او تدبر وکړي او ورباندې پښیمانه شي او له الله جل جلاله څخه مغفرت وغواړي ، کلک عزم او قصد وکړي چې په آینده کې به دغه تقصیرات نه تکراروي.

**دوهم**:- هرمسلمان باید د رمضان مبارک تر راتلو مخکې په خپل عادت کې تغیر راولي او خپل ځان په تلاوت، ذکر،استغفار اوداسې نورو تعبدی کارونو باندې عادت کړي؛ ترڅو دغه کارونو ته په رمضان المبارک کې دوام ورکړي.

**دریم**:- ددې لپاره چې د رمضان المبارک څخه ښه لاسته راوړنه ولرو د رمضان المبارک د رارسیدو څخه دمخه د خپل ځان لپاره یو تقسیم اوقات ترتیب کړو چې د قرآن کریم تلاوت، قیام اللیل، ذکر او اذکارو ته په کې پوره وخت ورکړل شوی وي.

**څلورم**:- هرمسلمان باید د رمضان دمبارکې میاشتې راتللو ته شوق ، مینه، خوشحالي او تنده ښکاره کړي لکه ډیر سخت تږی او یا سخت وږی چې خوراک او څښاک ته‌ږی وي.

**پنځم**:- هرمسلمان نراو ښځه د رمضان تر رارسیدو له مخه الله پاک ته سوالونه او دعاگانې د زړه په حضور او په ډیره عاجزی سره وکړي ؛ ترڅو الله جل جلاله یې د رمضان د مبارکې میاشتې له برکاتو او فیوضاتو څخه محروم نکړي او د طاعت او عبادت توفیق ورکړي او په دغه میاشت کې یې الله جل جلاله له تقصیراتو او غیرشرعی حرکاتو څخه وساتي او د صحیح او کاملې روژې نیولو توان ورکړي.

ددې لپاره چې د روژو د مسائلو او احکامو څخه په بشپړه توگه خبر شو ؛ مونږ به ان شاء الله په راتلونکو تقریرونو او بیانونو کې تاسو ته د روژو په برخه کې تفصیلي او مدلل معلومات وړاندې کړو .